# دانګړو د اغیزمنو استعمالولو لپاره مقرره

(د باندو ښار د انګړونو په دننه کي د موټرو د ځانګړو پرزو د ساتنه او داسي نورفعالیتونو د اغیزمنو استعمالولو په اړه مقرره)

د انګړونو په دننه کښي د موټرو له پرزو څخه تېل بهېږي او شاوخواته درزشویي حالات، اوهم د موټروغلا شوي پرزی په ناقانونه توګه اخستل او په انګړوکښي ساتلو پیښی شتون لري.

له همدی امله، په باندو ښارکي، د خلکو د ژوند د چاپیریال په ساتنه لپاره ، اودوی ته یوخوندي او سوکاله ژوند دتامینولو لپاره ، د انګړو د اغیزمنو استعمالولو په هکله مقرره وضع شوي دي چي له 2016 کال د جولای د لومړی نیته څخه د پلی کولو وړدی.

انګړ لرونکی مکلف دي، چي په مخکینیو اړوندو قوانینو او مقرراتوسربیره ، دا نوي مقرره اواصول هم رعایت کړي .

سربیره پردي ، دانګړد نصب کولو او د انګړد ځمکي خرڅونکو نه هم غوښتنه کیږي چي په دي برخه کي مرسته وکړي.

◆ هغه کسان چي له پخواه  د پرزه کولو کارونه کوي اویا هم دموټرونو پرزی ساتي هغوي هم د دي مقرراتو تابع دی.

◆ هرهغه  ځاي او "انګړ" چي په کي دموټروانجن او پروپیلر شافت ساتنه اویا پرزه کولو کارونه ترسره کیږي ، د دي مقرراتو تابع دی.

که د هتي په څنډه یا یوه  برخه کی هم اغزن اویا پلیټ دیوال شوي وي ، د دي مقرراتو او اصولو تابع دي.

◆ د بیلګی  په توګه، د بلدوزرو او یا د ټراکتور د انجن د بیلولو عمل چي  د بیا ګومارنه د قانون په اساس کي جوازته ضرورت هم نلری ددي مقرراتوتابع دی.

**د باندو ښاز**

# انکړ څه دي؟

د دې مقرراتو پربنسټ هرچیرته چي د موټرو پرزی لکه انجن ، پروپیلر شافت اونور توکی  په کښني ساتنه او یا د جلاکولو په مقصد  استعمالیږي ، "انکړ" نومیږی او د دې مقرراتو تابع دي.

## د پام وړ ټکی

- که د هتي په یوه  څنډه یا یوه  برخه کښي هم اغزن اویا پلیټ دیوال شوي وي،او که په بشپړ ډول چاپیر هم نه وی ، د دي مقرراتو تابع دی .
- هره  هغه ځمکه چي دموټرود پرزو کارونه په کښني ترسره کیږی دی  اصولو او مقرراتو ته تابع دی او دځای اندازه په نظر کښي نه نیول  کیږي.
- زاړه موټرسایکلونو چي د 125cc نه کم دي ، د دي اصولو اومقراتو و څخه بهر دي.
- د بلدوزرو او تراکتورونو د پرزوساتلو او جلاکولو کښي هم په دې مقرراتو کښني شامل دي.
- هغه شرکتونه چي په تخنیکی توګه د موټرو د ترمیمولو او د باروړونکو د وسایطو قانون اجازه نامه  ترلاسه کړی وی ، د یوي عمومي قاعدي پر بنسټ  دا مقرره هغوی باندی نه پلی کیږي.

## د راپور ورکولو مکلفیت

که تاسو غواړی چي په انګړونو کښي موټرونه پرزه کړي اویا هم د پرزی ساتنه کوي ، نو تاسو اړین یاست مخکی له دي چي داسی کارونه پیل کړی ،باید ښاروال پري خبرکړل شي.

- هغه کسان چي د موټرو د بیا ګومارنه د قانون پر بنسټ د موټرو د له منځه وړلو اجازه نامه تر لاسه کړي وی، د راپور ورکولو اړتیا  نه لري.
- د راپور نسخی  چي باید ښاروالی ته وسپارل شي دوه برخه لری. لومړی په دی نسخو کښي د انکړ موقعیت او پته ، دانګړپراخوالي ، تجهیزات , وسایلو او په ځمکه کښي د تیلو دجذبولو دمخنیوی لپاره ضروري اقدامات په کښي شامل وي . دویم  د انګړ یو ساده نقشه او نور اسناد لکه دانګړ د استفاده کید لو قانوني تصدیق هم ضمیمه  وی.
- د خبرتیا ورکولونه وروسته ، د انګړ دکار  د  ودریدو   او یا د له مینځه وړلو په صورت کښي هم باید ښاروال ته خبرورکړي.

● د انګړ د خبرتیا او ثبت نه وروسته ، تاسو باید د نښی په توګه یولوحه چي پکښي د ثبت شمیر او نور درج وي ،باید یو ځای کښي ولګول شي.

**د تېلو اونورو اوبلنو د درز کیدو دمخنیوي له پاره لازمي اقدامات او مکلفیت**

دانګړ په ځمکه کښي د موټرونو پرزو د تیلو د نفوذ کولو د مخنیوي لپاره ، انګړ باید په توله نیز دول کانکرېټ شی.

په همدې ډول د موټرونو د پرزواو د تیلو بهرته د درزکیدو د مخنیوي لپاره ، د انګړ بام باید ویوښول شي.

هغه کسان چي د انګړ په مخه کښي موټرونه پرزه کوي اویا پرزی ساتی ، ددغی مقرره د پلي کولو په وخت کښي تر ۳۰/۹/۲۰۱۶ نېټه پوری باید دغه لازمي اقدامات ترسره کړي.

**د پام وړ ټکی**

●هغه کسانو چي د موټرو د بیاګومارنی د قانون پر بنسټ اود موټرود ماتولو د قانون پر بنسټ اجازه نامه ترلاسه کړي وی اد مکلفیتونه وربادی نه پلی کیږي. نو باید د موټرو د بیا ګومارنه د قانون پربنسټ خپل مکلفیتونه ترسره کړي.

**د محرکه وسایطو ( لکه انجن او موټور) د معاملې په وخت کښي مکلفیتونه**

د انجن او موټورو د وصولولو به وخت د معاملی سیال د مسوول نوم ، پته اونور مشخصات یي په یقیني توګه باید تائید شي.

د انجن او موټور د وصولولو په وخت کښي ، که چیری شکمن شوی چي شاید غلا شوي شیان وي ، ژر تر ژره پولیس ته خبرورکړی. د وصول کړي محرکه وسایطو ریکارډ باید جوړ شي اوتر ۳ کالو پوري اد اسناد وساتل شي.

**د پام وړ ټکی**

● اد مکلفیتونوته، د زاړه شیانو سوداګران چي د زاړه شیانو د سوداګري د قانون پر بنسټ د فعالیت جواز ترلاسه کړي وی او هغي برخه ئی چي په همدي مقرراتو کښي شامل وی او یو شي وی د پلی کیدو وړ نه دي، نوتاسو باید د زاړه شیانو د سوداګري قانون پربنسټ کښي خپل مکلفیتونه ترسره کړي.

● د تعین شوي اصولو پربنسټ کښي باید د معا مله کونکو د مسوول نوم ، پته او نور مشخصات يي تصدیق او تایید کړی.

( د زاړه شیانو سوداګرو مکلف دي چي د زاړه شیانو د سوداګري قانون په تاکل شوي طریقه باندي د تاییدولو مرحله ترسره کړي.)

● د معامله ثبتول باید د وصولو د تاکل شوي فارم (دمحرکه موټورو دمعاملي دفتر) سره سمون ولري. په دي فارم کښي د معامله نيټه، د محرکه موټرونو د پرزو نوم او مشخصات، د معامله کونکونوم او دمعاملي د مسوول نوم اونور موضوعات باید په کښي ثبت شي.

## دځمکي خاوندان او د انګر نصبولو کارکونکو څخه غوښتنه

د ځمکي او انګړو د خرڅولو او اجاره ورکولو په صورت کښي ، مهرباني وکړی په ‌ بنپيړه توګه څیرنه وکي چي انګړ د ناقانونه موخو لپاره استعمال ‌ نشي.
که چیره ‌ هغه ځمکي او یا انګړ چي ‌ په اجاره ورکړي شوي وی او تاسو ګمان کوي چي ‌ دغه انګړ به ‌ د غیر قانوني ‌ موخو ‌ لپاره استعماليږي ، دمهرباني له مخی ‌ اړوندو چاروا‌کو ته خبر ورکړي.

## د سرغړونه په صورت کی سزا

د اړتیا په صورت کي، د انګړ څیرنه او د مسوولینو نه ‌ پلټنه کیږي.

د دي مقررى او مسوولیتونو د سرغړونی په صورت کی ، یو کال حبس او یا نقدي جریمي وضع کیږي.

## د پام وړ ټکی

● د څیرنه په وخت کی د پولیس افسران هم په سیمي ته ‌ رازی.

### اړیکي

- دانګړو د اغیزمنو استعمالولو د مقرراتو چارو عمومی دفتر

**د باندو ښار دمدنی ژوند مدیریت ، د ژوند چاپیریال څانګه** ☎ 2121 – 35 – 0297 (عمومي)

- د موټرو د بیاکورمانه قانون چارو دفتر

**د ایباراکي ولایت د ژرند چاپیریال مدیریت د فاضله موادو چارو دفتر** ☎ 3027 – 301 – 029

- د لرغونو او مستعملو شیانو د قانون چارو دفتر
- **د انګر دجرمونو د اړیکو عمومی دفتر**

**د ایباراکي ولایت د ساکای پولیس ماموریت د تولنة مصونیت څانګه** ☎ 0110 – 86 – 0280